آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۷/۱۵

# دا یو خیال دي بدرګه راسره پرېږده



**چې ته لاړې**

**او په نه راتګ دې پوه کــړم**

**لکه تیږه، لکه غـر هسې شوم غلی**

**ما وې هر څه لولپه شول، هم دا کلی**

**ژبه لال شولـه، ګـونګی شوم**

**په چړو سورى، سورى شوم**

**چـوپتیا راغله را نه تاو شوه**

**له هر څه سره پــردى شوم**

**خو ته نور څه ما ته مه کړه**

**بس وروستی مهرباني دې پر ما وکړه**

**دا یــو خیال دې بــدرګه راسره پرېږده**

**که دا و نه کړې،**

**نو پوه شه، لــیونی به شم**

**ســپانــده سپیلـنی به شم**

۲۰۱۷/۰۷/۱۴
هیدرسلیف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ